مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۱۶

# «هینداري او چینې»

## د اند یو بل ادبي ګام

خوشال خانه! دوی بانه ورته هوار کړي
د مـغـلـو چـې پـــه لار اسـونـــه راشي

د اجمل اند د شعر دغه بیت زما د بحث وړ شعرى ټولګه کې نه شته . ما کوم بل ځاى لوستى یا اورېدلى و . دومره مې په زړه خوږ لګېدلى و چې به خپل تیلفون کې مې ولېکه او راسره مې وساته او نورو شاعرانو او خپلو دوستانو ته مې هم د تیلفونى پیغام له لارې واستاوه او څو میاشتې زموږ تر منځ یو بل ته لېږل کېده . دلته مې ځکه اول دا بیت یاد کړ چې یو څو مې خپلو خبرو ته ترې پل وتاړه ، او بل مقصد مې دا و چې په دې توګه د اند د شاعرۍ یوې مهمې ځانګړتیا ته اشاره وکړم .
ښاغلي اند ډېر ځله په خپلو شعرونو کې هغه چا ته چې ورسره جوړ نه دى ضمیر استعمالوي چې زه یې دده د شعر یوه ښه بریا بولم .

دوى ته دا عار ښکارى چې کینى مخامخ یو بل ته
دوى ته اوس سخته ده چې ووینځي له وینې تورې

دې خو بیشکه ددې ښار د فرښتو قاتلان
خو چې دې خلکو چېرې پټې کړې رنګینې تورې

یو وخت به وى چې رود به وچ شى غر به شور نه لري
دوى که شینکۍ ښېرۍ وهي او اشیانې ورانوي

که پورتنى بېلګه کې یې د دوى پرځاى سخت زړي ، جابران یا ظالمان لیکلي واى دا اوسنى خوند مو نه شو ترې اخیستلى . موږ او تاسو چې خداى مه کړه له چانه کرکه ولرو نو م یې نه اخلو ، نه وایو چې فلانى یا فلانیان راغلي وو ، بلکې وایو دوى راغلى ول ، دى دې ولید؟ ده څه ویل ؟ ...او نور
موږ ځکه له دا ډول ارائیې خوند اخلو چې شاعر زموږ په زړه خبره کوي ، هماغسې چې موږ یې په ورځني ژوند کې وایو ده هم د ښکلو الفاظو په ملتیا په شعر کې ویلى .
د درویش درانى په شعرونو کې داسې بېلګې زیاتې دي. او د نوموړى د شعر په برى کې د نورو علتونو تر څنګ دا ډول ارئیې هم رول لوبولى دى چې اند هم په دې ډول بېلګو کې بریالى برېښي . یو بله بېلګه یې :

موږ مینه هم کوو او ډېر ښکلي سینو کې ساتو
خو که ریښتیا ووایم دې خلکو کې یار نه لرو

کلونه وشول چې موږ واړه په یو کلي کې یو
کلونه وشول چې په یو بل اتبار نه لرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د ښاغلي اند د شعر یوه بله ځانګړنه ښایي  په شعر کې د یوې پیښې د کېدو د مشخص وخت یادونه  وبولو :

بیګا یې توله شپه روښانه ځراغونه وژل
بیګا روان د ښار کو څو کې څو بدرنګ سرې وو

یا دا بیت چې :

خدای خبر بیا یې دي په کومې بهانې وژلي
بیګا له ځېرمې  دي چا تولې  میخانې  وژلې

د دا ډول طرز بریا په دې کې بللی شو چې  دا ډول بیان د پېښې  په ربښتاینه کې مرسته کوي ، ته به وایې چې شاعر په خپلو سترګو لیدلې چې  تېره شپه  د ښار په کوڅو کې یوې بدرنګې ډلې د ښار ځراغونه وژل  او ده دا پېښه په خپلو سترګو لیدلې  ده ، لکه :

دا سرې چې په دار زانګې په ژوند تنګ وو
د دېوانو له پا چا سره یې جنګ و

په لېمو کې یې ډېوې ، خوله کې تپې وې
را بیل شوی د رڼو ستورو له ځنګ و

یا دا چې :

چې دا کوچې ځنګه سپېرې شوندې راکوزه سوله
سپین غر څو داسې بې ممانو بې ګورګورو نه و

هغه ترې توره د دښمن په تېز ونیوله
څو خوند یې څوا کې د خورو ورو ملګرو نه و

دې طرز  ته  په  ادبیاتو کې د  وقوع  طرز  وایې ، یوه پېښه داسې په  کې بیانېږي چې لو  ستونکې یې په ریښتینولې کې شک نه کوي ، د یو چا مشخصه یادونه په کې کېږي .
اجمل اند یو مینه ناک  او  صمیمی انسان دی ،  طبیعي ده چې همدا  صمیمیت یې په  شعرونو  کې هم  موږ ته  را لېږدولی دی .

ددوی لیمو کې هم د ژوند مینې ځپې وهلې
هوسې څو ښکار نه وه پوازې د زمرې لپاره

یا :

خدای څو دې نه اخلې زموږ ځنې دا ځینې خلک
زموږ په منځ کې یو څو تنه دې د مینې خلک

که ګل پسې یې اقتدا د عشق په نوم وکړله
په دې کوڅو کې به بیا نه تویوې وینې خلک

یا دا بله بیلګه :

بلا عمر مې تېر شو څو چې اړخ مې  ساړه واخلې
منې چې د مور غېږه د پلار ځنګ راته رایاد شي

او یا:

که لاس مې پورته کړ نو خامخا  جانان به غواړم
څه بې ایمانه دومره نه یم چې ایمان به غواړم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اجمل اند په هنداري او چيني نومي ټولګه کي له تکلفه لري دی ، ښکلو او نويو تصويری ترکيبونو يي شعر ته لا ښکلا وربښلي ده ،. وګوری :

ګرېوان مي چي پري لوند شي نو شي ستړي تنده ماته
خوښبوی مي اوبه لکه د هقان په دواړو لپو

یا :

هغه ترې توره د دښمن په تېټر ونيوله
خو خوند يي خوا کي د خورو ورو ملګرو نه وو

انده ! راغه سرِ کال غاټول ګلان و نه توکول
د رود په غاړه شور د زرکو او تنزرو نه وو

په ( هېنداري او چيني ) د اجمل اند زياتي غزلي او چارباره نظمونه خپاره شوي دي . ازاد شعرونه په دې ټولګه کې د ګوتو په شمار دي ، خو دا په دې مانا نه ده چي ګوندې اند په ازاد شعر کې لاس نه لري . که څه هم په دې ټولګه کي يي ازاد شعرونه لږ دی خو کامیابي نموني دي .

زما زړه که چېرې ستا سينه کي ځای شي
نو ولا چي له خپل ځان په غېږه تاو کړي
چېرې پټ به
يو خاموش ځنګل ته لاړ شي
دومره لرې چي
هيڅ غږ نه در رسېږي
د رڼې چيني تر څنګ به داسي کيني
چي خپل ځان در ته اوبو کي مخامخ شي
نو دا هر څه به دې داسي يو دم هېر شي
چي قيامت پوري به خپل تصوير ته ژاړي

يا دا بل ازاد شعر :

ای ! د ښکلا د غره د کلي نجلی
دا تصور دې رانه واخله زياتي
غوارمه هېره دې کړم
داسي دې هېره کړم چي ټول عمر دې ياد پاتي شي
زه په شاعر زړګی نور دومره پيتي نه شم وړلای

(تر پايه)

خو زه په دې ټولګه کي د هغو شعرونو سره موافق نه يم چي د کوکنارو او د بنګو په ستاينه کي ويل شوي دي . له بده مرغه په دې ټولګه کي لږ هم نه دي . زه يي څو بيلګي دلته را اخلم :

**چي ولي په دې ښار کي د رود شرنګ راته رایاد شي**
**چي تل لمر په لويدو شي لکه بنګ راته را ياد شي**

**يو شين دود د چيلم د رباب شرنګ راته رایاد شي**
**چي کله ها زيارت هغه ملنګ را ته را ياد شي**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

او یا دا چي :

بنداز او مازیگر خو به جانانه سره پالو
زیارت به سره ساتو  او چیلم به سره ساتو

اشنا د زړونو زور کي مو د وخت جبر اوبه کړ
دیره ، منگی ، سپتار ، د چرسو دم به سره ساتو

یا :

ځار يي له خوماره په کندول بنگو یي مات کړمه
گراني ! کنه سترې ژوند خو ټول ارمان دی .

څو ورځي مخکي چا کېسه راته کولځ چي د خوښی په یو محفل کي یوي سندر غاړي سندرې  ویلي  کله يي چي ( ادم خانه چرسي کټ مي اوباسه دالان ته ...)  سندره پیل کړه  نو شاته ناستو نشه یی ځوانانو چي هر یوه یي په هغه وخت کي ځان تر ادم خان کم نه باله  د چرسو سیگرټي بل کړل .  سندرغاړې هم د محفل د لا گرمولو لپاره بله سندره پیل کړه (...خوماریان راغلي دینه میرزا خانه خانه چیلم راواخله ...)
له دې سره د خوماریانو د چرسو دودونو د محفل فضا  ونیوله او نور د خوښی له دې مجلسه ووتل .
دا کېسه مي ځکه وکړه ، زه  وایم که  موږ   په  شعرونو  کي بي له  کومي خاصي اړتیا   د  بنگو  او  کوکنارو ستاینه وکړو په لوی لاس به مو د یو ستر  ټولنیز فساد په خپرېدو کي برخه اخیستي وي .
خو اند د کوکنارو او نشه یي موادو په غندنه کي هم شعرونه  ویلي چي په دې ټولگه کي یي بېلگي  شته .

ښایست د دنگو نجونو د چپلم په لوگي پلوري
د کلي په خانانو کي ناځوانه  پاتي شوی .

په هینداري او چیني کي داسي تکراری بیتونه هم چاپ شوي  چي یوازې یو دوه الفاظ یي بدل شوي دي یعني شاعر له خپل ځانه نقل کړی .  لکه په ۴۰ او ۷۳ مخونو کي :

هسي نه بیا له ژنیو تش راولي ټول اسونه
دا پاچا و پوښتئ په کوم خوا یي  لښکرې  لاړې

چي به ۷۳ مخ کي بل بیت په لږ توپیر داسي راغلی :

هسي نه بیا له ژنیو تش راولي ټول اسونه
د کلي خان توره ایستلي  وارخطا روان دی

نور د اند شعرونه ، ساده ، خواږه او صمیمی دي او په لوستونکي  باندي په لومړي ځل لوستلو سره اغېزه کوي . د نورو  شعري ټولگو په شان  يي دا شعرونه هم بیل رنگ او خوند لري . دده د ادعا خلاف چي  وایي ( د ذهن او خیاله مي ټول سندریز توري کوچېدلي ) په ورستیو کي يي هم ښکلی شعرونه ویلی دي .  چي موږ تږي  د رشاد کره کتني او افغان ادبي بهیر په اونیزو غونډو  کي اوریدلي دي .
اجمل اند ته د ورستیو دوو ټولگو د چاپ مبارکی وایم او د لا بري دعا ورته کوم .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ